ژباړن: سیلانی
۲۰۲۰/۰۸/۱۶

# د افغانستان او ایران دولتونو ترمنځ معاهده

درنو لوستونکو، ما ددې معاهدې مایکرو فلم او انګلیسي ژباړه د قطر هیواد له ډیجیټالي کتابتون څخه تر لاسه کړه. همدا معاهده د ملګرو ملتونو په منشور کې هم خوندي.

د افغانستان او ایران د لوړو دولتونو ترمنځ معاهده
تهران، د ۱۹۲۱م کال د جون ۲۲مه
(د دې تصدیق‌لیکونو تبادله د ۱۹۲۳م کال د سپتمبر په ۷مه په کابل کې وشوه).
د الله(ج) په نامه، چې ډېر مهربان او رحم کوونکی دی!
له الله(ج) پرته بل معبود نشته، محمد (ص) د هغه پیغمبر دی!
ټول په ګډه د الله پر رسۍ منګولې ولګوئ او سره مه بېلېږئ!
څرنګه چې اسلامي یووالی، نژادي پیوندونه او د دواړو دولتونو ترمنځ د نیک او ښه ګاونډیتوب اړیکي دا ایجابوي چې د دوی دوستانه مناسبات د یوې معاهدې په تړلو سره لا ټینګ شي. له همدې امله، د دې سپېڅلي مقصد د عملي کولو لپاره، اعلیحضرت د ایران شاه خپل جلالتمآب حاجي محتشم‌السلطنه، د بهرنیو چارو وزیر او اعلیحضرت د افغانستان امیر خپل جلالتمآب سردار عبدالعزیز خان، مختار وزیر او د اعتبار لرونکي لیک درلودونکی استازی، د خپلو باصلاحیته استازو په توګه وټاکل. دواړو استازو د خپلو رسمي اعتبارلیکونو تر تبادلې وروسته، لاندې مادې تصویب او ومنلې:

لومړۍ ماده
له نن ورځې وروسته به د ایران او افغانستان او د دواړو دولتونو د اتباعو ترمنځ رښتیني دوستي او ښې اړیکې ټینګې شي.

دویمه ماده
د دواړو عالیه تړون کوونکو لوړو سفیران، مختار وزیران، شارژدافیران او مأمورین به د مقابل لوري په دربار کې له هغو ټولو حقوقو او امتیازونو څخه برخمن وي چې د نړیوالو قوانینو او مروجو دودونو له مخې ټاکل شوي او معمول دي.

دریيمه ماده
د دواړو تړون کوونکو دولتونو اتباع، که د مقابل دولت په هیواد کې استوګن وي او که هلته سفر کوي، درناوی به یې کېږي او په بشپړ ډول به د خپل دولت د رسمي استازو تر ساتنې لاندې وي.

څلورمه ماده
د دواړو تړون کوونکو دولتونو اتباع، که د مقابل دولت په خاوره کې استوګن وي او که هلته سفر کوي، د هماغې خاورې د قوانینو تابع به وي. د هغوی مدني او جزایي قضیې به د ایران او افغانستان د سیمه‌ییزو قضایي محکمو له خوا واورېدل شي او پرېکړه به ورباندې وشي.

د دواړو عالیه تړون کوونکو لوړو دیپلوماتیک او قونسلي مأمورین به د یو بل په خاوره کې په مدني او جزایي قضیو کې د مداخلې حق ونه لري. د هغه هیواد کورنۍ محکمې چې د دواړو دولتونو اتباع په کې استوګن وي، هغه مراجع دي چې د هر یوه دولت د اتباعو ټولې دعوې باید ورته وړاندې شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

پنځمه ماده
دواړه عالیه تړون کوونکي لوري حق لري چې د یو بل هېواد په مهمو ښارونو او سوداګریزو مرکزونو کې جنرال قونسلان، قونسلان، مرستیال قونسلان او قونسلي استازي وټاکي، خو نوموړي مأمورین به تر هغه وخته خپلې ټاکل شوي دندې نه پیلوي، څو یې د د مأموریت رسمي اجرائیه اجازه‌لیکونه د هغه هېواد له دود سره سم، چې دوی په کې استوګن دي، صادر شوي نه وي.

شپږمه ماده
د هر یوه دولت هغه اتباع چې د بل دولت په خاوره کې استوګن وي، له پوځي خدمت او همدارنګه له ټولو هغو نورو مکلفیتونو څخه معاف دي چې یوازې د هماغه هېواد پر خپلو اتباعو لازم وي.

اوومه ماده
که د دواړو تړون کوونکو دولتونو له اتباعو څخه یو تن جرم ترسره کړي او د بل دولت خاورې ته وتښتي، د هغه کس یعني د جرم ترسره کوونکي دولت مأمورین حق لري چې د ډیپلوماتیکو لارو له مخې د نوموړي د بېرته سپارلو غوښتنه وکړي. سیمه‌ییز چارواکي به هم په دې برخه کې له مرستې کولو څخه ډډه نه کوي. خو سیاسي مجرمان له دې حکم څخه مستثنی دي.

اتمه ماده
د دوستانه اړیکو د پیاوړتیا او د سوداګریزو مناسباتو د ټینګولو لپاره به دواړه تړون کوونکي لوري په لومړي مناسب فرصت کې د سوداګریزو اړیکو، ګمرکي محصولاتو او پوستي او تلګرافي مبادلاتو په اړه لازم تړونونه او موافقتلیکونه لاسلیک کړي. دغه تړونونه او موافقتلیکونه به تر لاسلیک او تصدیق وروسته نافذ شي.

نهمه ماده
د یوه تړون کوونکي لوري او کوم دریېم دولت ترمنځ د جګړې پیلېدل به د دواړو لورو د دوستانه اړیکو د پرې کېدو لامل نه ګرځي. بل لوری به د بې‌طرفۍ د اصولو له مخې مکلف وي چې دښمن ته له هر ډول اسانتیاوو برابرولو څخه ډډه وکړي.

لسمه ماده
تړون کوونکو لورو، د ایران د شاهنشاهي دولت او د افغانستان د پاچاهۍ ترمنځ د شته دوستۍ او متقابل باور د څرګندولو لپاره پرېکړه کړې ده چې ټولې مهمې ستونزې او شخړې، چې دوی یې د خبرو اترو له لارې په قناعت‌بښونکي ډول نه شي هوارولی، د نړیوالو قوانینو او دودونو له مخې حکمیت ته وسپاري. تړون کوونکي لوري ژمنه کوي چې د حکمیت پرېکړه به په بشپړې رښتینولۍ عملي کوي.

یوولسمه ماده
دا معاهده به په فارسي ژبه په دوو یو شان نسخو کې ترتیب شي.

دولسمه ماده
د دواړو تړون کوونکو لورو استازي ژمنه کوي چې د دې معاهدې د لاسلیک له نېټې څخه د درېیو میاشتو په موده کې، یا که شوني وي تر دې هم وړاندې، د معاهدې د تصدیق لپاره ټول اړین اسناد په تهران یا کابل کې سره تبادله کړي. له همدې امله، د دواړو تړون کوونکو لورو استازو دا معاهده لاسلیک او په خپلو مهرونو مهر کړه.
په تهران کې د ۱۳۳۹ هجري قمري کال د شوال د میاشتې په ۱۵مه، چې د ۱۳۰۰ هجري لمریز کال د سرطان له لومړۍ نېټې سره سمون لري، ترتیب او لاسلیک شوه.

**ضمیمه مادې**
لومړۍ ماده
د دې معاهدې په درېیمه ماده کې د دې جملې معنا چې: «د دواړو تړون کوونکو دولتونو اتباع، که د مقابل دولت په هېواد کې استوګن وي او که هلته سفر کوي، درناوی به یې کېږي او په بشپړ ډول به د خپل دولت د رسمي استازو تر ساتنې لاندې وي»، دا ده چې د دواړو دولتونو مأمورین کولای شي د هغه هېواد د قوانینو په چوکاټ کې چې دوی په کې استوګن دي، د خپلو اتباعو لپاره د اسانتیاوو د برابرولو په موخه د هماغه هېواد چارواکو ته مراجعه وکړي.

دویمه ماده
هغه قومونه او کوچیان چې پخوا له افغانستان څخه ایران ته کډه شوي دي، د بربریانو او نورو په ګډون، د پخوا په څېر به د ایران اتباع پاتې شي. هغه بربریان چې غواړي افغانستان ته سفر وکړي، تر هغه به د افغانستان خاورې ته د ننوتلو اجازه ونه لري چې په ایران کې د مېشتو افغان چارواکو له خوا یې پاسپورتونه ویزه شوي نه وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

هغه سرحدي قومونه چي د اوړي استوګنځايونه يي په يوه هېواد او د ژمي استوګنځايونه يي په بل هېواد کي وي، په ايران کي د اوسېدو پر مهال به د ايران د اتباعو او په افغانستان کي د اوسېدو پر مهال به د افغانستان د اتباعو په توګه چلند ورسره کېږي.

هغه کسان چي له افغانستان څخه ايران ته راغلي او په ايران کي د افغانستان د سفارت تر جوړېدو مخکي هلته مېشت شوي دي، د پخوا په څېر به د ايران اتباع پاتي شي.
هغه سوداګر چي يوازي د سوداګرۍ لپاره له افغانستان څخه ايران ته راغلي وي، په ايران کي دايمي استوګن شوي نه وي او د اسنادو له مخي ثابته شي چي د ايران دولتي ادارو ورسره د ايراني اتباعو په توګه چلند نه دی کړی، د افغانستان د اتباعو په توګه به وپېژندل شي.

دريیمه ماده
په همدې ډول، هغه قومونه او کوچيان چي له ايران څخه افغانستان ته کډه شوي دي، د هغه هېواد اتباع به پاتي کېږي چي دوی په کي استوګن دي او تر هغه به ايران ته د ننوتلو حق ونه لري چي د ايران د استازو له خوا يې پاسپورټونه ويزه شوي نه وي. هغه ډول چلند چي تفصيل يي په دويمه ضميمه ماده کي بيان شوی، پر هغو قومونو او کوچيانو به هم پلی کېږي چي پخوا له افغانستان څخه ايران ته کډه شوي دي.

هغه کسان چي په کابل کي د ايران د سفارت تر جوړېدو مخکي له ايران څخه افغانستان ته کډه شوي او هلته مېشت شوي دي، د پخوا په څېر به د افغانستان اتباع پاتي شي. هغه سوداګر چي يوازي د سوداګرۍ لپاره له ايران څخه افغانستان ته تللي وي، هلته دايمي استوګن شوي نه وي، او د اسنادو له مخي ثابته شي چي د افغانستان دولتي ادارو ورسره د افغان اتباعو په توګه چلند نه دی کړی، د ايران د اتباعو په توګه به وپېژندل شي.

د تصديق متن
د الله په نامه، چي تر ټولو سپېڅلی دی!
زه د الله بنده، د الله په لار کي هڅه کوونکی، امير امان‌الله د افغانستان د عاليه دولت پاچا، د دوستۍ دغه معاهده تصديقوم چي له دولسو مادو او درېيو ضميمه مادو څخه جوړه ده او په پورته مشخصو بېلابېلو نېټو کي، د دواړو عاليه دولتونو د باصلاحيته استازو له لاري، زموږ او اعليحضرت سلطان احمدشاه قاجار، د ايران په قلمرو کي د ټولو شاملو سيمو د شاه، ترمنځ تړل شوې ده او ژمنه کوو چي دا معاهده به له هر ډول بدلون پرته په بشپړ ډول عملي کړو.

(د اعليحضرت غازي لاسليک)
د ۱۳۰۲ هجري لمريز کال د سنبلي په ۱۵مه، چي د ۱۳۴۲ هجري قمري کال له محرم سره سمون لري، نېټه ورکړل شوه
د ايران استازی
د افغانستان استازی
محتشم‌السلطنه
عبدالعزيز
د ايران د عاليه دولت د بهرنيو چارو وزير
د افغانستان د عاليه دولت استازی

د افغانستان استازی
د ايران استازی
جنرال محمدولي خان
نصرالله اطلاع‌الملک
د افغانستان د عاليه دولت د بهرنيو چارو وزير
په کابل کي د ايران د عاليه دولت مختار وزير او باورليکلرونکی استازی

**Sincerely,**
**Tamhid Saylani**
Director, Academic Publication and Cultural Affairs
Senior Linguist, Dari, Pashto, and Turkish Languages
Ghalib-Kabul University

**Contact Information:**
**Email:** tamhid.saylani@ghalib.edu.af
**Phone:** (+93) 782956183
**LinkedIn:** Tamhid Saylani
**Facebook:** Tamhid Saylani

**Address:**
District 12, Block 12, 4th Street,
Postal Code 1001, Kabul, Afghanistan



PERSIA—APPENDIX NO. XXVI—1921. xcix

APPENDIX No. XXVI—(*See page 20*).

TREATY between the EXALTED GOVERNMENTS of AFGHANISTAN and PERSIA
Tehran, June 22, 1921.

(Ratifications exchanged at Kabul, September, 7, 1923.)

(Translation.)

In the name of Allah, the Compassionate, the Merciful!

There is no God but Allah, Mohammed is his Prophet!

Hold fast by the rope of Allah all together and be not disunited!

WHEREAS Islamic unity, the ties of race and the bond of good and neighbourly relations between the two States required that friendly intercourse should be consolidated by the conclusion of a Treaty; therefore, in order to carry out this holy purpose, His Majesty the Shah of Persia appointed His Excellency Hajji Mohtashem-es-Sultaneh, the Minister for Foreign Affairs, and His Majesty the Ameer of Afghanistan appointed His Excellency Sardar Abdul Aziz Khan, his Minister Plenipotentiary and accredited Envoy, as their authorised agents, who after exchange of their official credentials, concluded the following Articles:—

ARTICLE I.

From this day henceforth, sincere friendship and good relations will be established between Persia and Afghanistan and the subjects of the two Governments.

ARTICLE II.

The Ambassadors, Ministers Plenipotentiary, Chargés (d'Affaires) and Officers of the High Contracting Parties at the Court of the other will enjoy all the rights and privileges which are ordained and customary according to international law and usage.

ARTICLE III.

The subjects of the two Contracting Governments, whether residing or travelling (in the other's country) will be respected and wholly under the protection of the officials of their own Governments.

ARTICLE IV.

The subjects of the two Contracting Governments, whether residing or travelling in the territory of the other, will be subjected to the laws of such territory. Civil and criminal cases will be heard and decided by the local judicial Courts of Persia and Afghanistan.



cii PERSIA—APPENDIX NO. XXVI—1921.

evidence not to have been treated as Persians by Persian Government Departments, will be recognised as Afghan subjects.

GENERAL MUHAMMED WALI KHAN,
*Minister for Foreign Affairs of the Exalted Government of Afghanistan.*

NASRULLAH IТELA-UL-MULK,
*Minister Plenipotentiary and accredited Envoy of the Exalted Government of Persia at Kabul.*

ARTICLE III.

Similarly, the tribes and nomads who have emigrated from Persia to Afghanistan will remain subjects of the Government of the country in which they reside, and will have no right to enter Persia unless their passports have been visé by the Persian representatives. The same treatment, as detailed in supplementary Article II, will be applicable to the tribes and nomads who have previously emigrated from Afghanistan to Persia. Persons who have previously to the establishment of a Persian Legation in Kabul emigrated from Persia to Afghanistan and settled there, will remain Afghan subjects as before.

Merchants, who have gone to Afghanistan from Persia only for purposes of trade, and have not settled there permanently, and who are proved by documentary evidence not to have been treated as Afghans by Afghan Government Departments, will be recognised as Persian subjects.

GENERAL MUHAMMAD WALI KHAN,
*Minister for Foreign Affairs of the Exalted Government of Afghanistan.*

NASRULLAH ITELA-UL-MULK,
*Minister Plenipotentiary and accredited Envoy of the Exalted Government of Persia at Kabul.*

In the name of God, Most Holy!

We, the slave of Allah, the toiler in the path of God, Ameer Amanullah, King of the Exalted State of Afghanistan, ratify this friendly Treaty, consisting of twelve Articles and three supplementary Articles, which has been concluded through the authorised representatives of the two exalted Governments on the different dates specified, between us and His Majesty Sultan Ahmed Shah, Kajar, Shah of all territories comprised in Persia, and undertake to carry it out without any alteration.

(Signature of HIS MAJESTY THE GHAZI.)

Dated the 15th Sumbala, 1302, corresponding to Muharram, 1342 (*sic*).


maqalat@afghan-german.de افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

Diplomatic and Consular Officers of the High Contracting Parties will have no right of interference in civil and criminal cases in each other's territory, and the internal Courts of the country in which they are staying will be those to which all claims must be referred by the subjects of either Government.

ARTICLE V.

The Two High Contracting Parties will have the right to appoint Consuls General, Consuls, Vice-Consuls, and Consular Agents in the important towns and trading centres of each other's country; but the said officials will not enter upon the duties of their appointments until after the exequaturs of their commissions have been issued according to the custom of the country in which they are staying.

ARTICLE VI.

The subjects of either Government staying in the territory of the other will be exempt from military service and all other duties incumbent only on subjects of the country.

ARTICLE VII.

If a subject of either of the two Contracting Governments commits a crime and absconds to the territory of the other, the officers of his Government will have the right to demand, through diplomatic channels, his extradition, and the local authorities will not fail to give assistance in the matter. Political offenders, however, will be excepted from this arrangement.

ARTICLE VIII.

In order to strengthen friendly relations and to establish trade connections, the two Contracting Parties will, at the first opportunity, conclude such Agreements and Conventions as may be necessary in regard to trade relations, Customs duties, postal and telegraphic exchanges, which will come into force after signature and ratification.

ARTICLE IX.

The outbreak of war between one of the Contracting Parties and a third State will not operate to cause a rupture of the friendly relations of the two parties. The other party will be bound, according to the rules of neutrality, to avoid giving facilities to the enemy.

ARTICLE X.

The Contracting Parties, in order to manifest the friendship and trust existing between the Imperial Government of Persia and the Kingdom of Afghanistan, have decided that all important difficulties and disputes, which they may not be able to settle satisfactorily by negotiation, should be referred to arbitration according to international law and custom. The Contracting Parties engage to carry out the award with all sincerity.



ARTICLE XI.

This Treaty will be drawn up in duplicate in the Persian language.

ARTICLE XII.

The representatives of the two Contracting Parties undertake that within three months of the signature of this Treaty, or, if possible, at an earlier date, all documents necessary for its ratification will be exchanged at Tehran or Kabul. The representatives of the two Contracting Parties have accordingly affixed their signatures and seals to this Treaty.

Dated at Tehran, the 15th Shawwal, 1339, corresponding to the 1st Saratan, 1300 (Shamsi).

MOSTASHER-ES-SULTANEH,
*Minister for Foreign Affairs of the Exalted Government of Persia.*

ABDUL AZIZ,
*Envoy of the Exalted Government of Afghanistan.*

*Supplementary Articles.*

ARTICLE I.

The meaning of the sentence in Article III of this Treaty, viz., "The subjects of the two Contracting Governments, whether residing or travelling (in the other's country) will be respected and wholly under the protection of the officials of their own Governments", is that the officials of the either Government can, within the scope of the laws of the country in which they reside, refer to the officials of that country, for the arrangement of facilities for their subjects.

ARTICLE II.

The tribes and nomads who have previously emigrated from Afghanistan to Persia (including Barbaris, &c.) will remain Persian subjects as before. The Barbaris who intend to travel to Afghanistan shall not be allowed to enter Afghan territory unless their passports have been visé by the Afghan officials residing in Persia. The frontier tribes, who have their summer quarters in one country and their winter quarters in the other, will be treated as Persian subjects during their stay in Persia, and as Afghan subjects during their stay in Afghanistan. Persons who have come from Afghanistan and settled in Persia previously to the establishment of an Afghan Legation in Tehran will remain Persian subjects as before. Merchants, who have come to Persia from Afghanistan only for purposes of trade and have not settled permanently in Persia, and who are proved by documentary


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ